**لیکونکی** : الفرد مککوی (Alfred McCoy).
**منبع اودخپریدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۶-۲-۲۳» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# ځنګه ګلابی ګل دنړی غټ ابرقدرت ته ماتی ورکړه

How a pink flower defeated the world's superpower

## دامریکی دمتحده ایالاتو د تریاکو جګړه په افغانستان کی .

**America's Opium War in Afghanistan**

**انفارمیشن کلیرنګ هوز تام د یسبیچ (Tom DisPatch)** = د امریکی متحده ایالات د خپل جنګ اوجګړی په تاریخ کی اوبیا په ځانګړی بڼه په افغانستان کی دترټولو اوږد جنګ جګړی ځخه وروسته اوس دما تی په ژی (ګرنګ)کی ولاړ دی .د لته یو پوښتنی را پیدا کیږی اوهغه داچی دا ځرنګه کیدای شی چی امکان ولری ؟ اویا داچی ځنګه کیدای شی چی دنړی یواځنی تکړه زبرځواک په دوامدار توګه د(۱۵) کا لو په جګړه او د سلوزرو سرتیرو دځای په ځای کولو اودخپلو (۲۲۰۰) سرتیرو په عملیاتونوکی دژوند د قربانولو اودیوتریلیون دالر و په لګښت اوداضافی سخا وتمندانه سلونوبیلیونو دالرو په مصرف سره دبیا رغونی اود ملی جوړښت چاری، د لګښتونو د صند وق دسمبا لولو اود (۳۵۰۰۰۰) افغانی متحد و سرتیرو د روزنی سره سره ونشی کړلی چی د نړی د ترټولو یو بیوزلی هیواد ارامه کړی اود جګړی تغر له دی هیواد ځخه راټول کړی . نو ددی پورتنی هلو ځلو اوموارودو په نظر کی نیولو سره ډیر تیا ره او نا ښونی ښکاری چی په کال (۲۰۱۶) په افغانستان کی ثبا ت او تیکاو را مینځته شی هغسی چی (اوباما) دسپینی مانی واکمن په دی وروستیو کی له افغانستان ځخه دخپلو سرتیرو در راایستلو پلان لغوه کړ اود نورولسوزروسره تیری دراوتلوموده یی و نه ټاکل او دهغوی شتون تر یو نا محد ود مودی پوری وځندول .

داچی ولی دامریکی متحده ایالات په دغه جګړه کی دما تی سره مخامخ شو ـ تاسی دافغانستان ددغه پیچلی جګړی زبر غوتی (کورګره) ځیرل دامریکی د پیریو د متضاد ناکام اود دروغوځخه په ډک نا سم پا لیسی کی موند لی شی اوهغه داچی اوس دواشنګټن ددغه پراخه افسانوی نه تمیدونکی پوځ د فولادو پټلی په افغانستان کی د کوکنار د ګلابی ګل پواسطه سره دړی وړی او ودرول شو.

په افغانستان کی ددری لسیزوځخه په زیا ته موده کی د واشنګټن پوځی عملیا تونه یواځی هغه وخت دبری او کامیابی سره مل او بوځای وه کله چی هغوی په ډیر آسا نی اوبی له کوم خنډ سره مینځنی آسیا ته مخد ره مواد لیږدول اویا دمخدره موادو غیرقانونی قاچاق تر سره کول اوهرکله چی هغوی دتریاکو د قاچاق کولو په لاره کی د خنډ سره

مخا مخ کیدل نو په هغه وخت کی په شکا یتونو اوناری سوری با ندی لاس پوری کول په هر صورت دامریکی دمتحده ایالاتو لاس وهنه او مداخله په افغانستا ن کی دلمړی ځل دپاره په کال (۱۹۷۹) کی پیل شو او هغوی پخپل دغه لاس وهنو سره تر یوه حده پوری بری تر لاسه کړ اوداځکه چی په افغانستان کی جګړه د سی آی ای (CIA) په مرسته دخپل افغانی متحد ینوسره دروسانو دمحد ودو نظامی قطعا تو د له افغانستا ن څخه دویستلو تر سرلیک اوشعار لاندی پیل اوپکار واچول ، په دی وخت کی مخدره مواد په افغانستان کی انبار شوی وه اومینځنی آسیا ته دهغه موا دو دقاچاق کولو شرایط هم مساعد وه او ددی امکان پوره موجوده وه چی د نوموړی موادو په پیسو سره په افغانستان کی جګړه دځو لسیزو دپا ره دوام ورکړشی .



دبلی خوا څخه دجګړی دوام تر (۱۵) کا لوپوری له هغه وخته چی دامریکی متحده ایالات په کال (۲۰۰۱) کی پرافغانستان باندی یرغل کړی دی په همدغه موده کی سره د ډیرو هڅو اواند د پخلاینی هڅی د نا کامی سره مخا مخ شو او امریکی د خپل لاس نا ستی رژیم سره سره ونشو کړلی چی دشورشی طالبانو دنفوذ ساحه را لنډی او محدود کړی اودا ځکه چی امریکی نشوکړلی یا نه غوښتل چی په افغانستان کی د مخدره موادو اضا فی او ما زاد زیرمی او انبا رونه اود«هیروین» تجا رت اوراکړی ورکړی ترخپل کنترول لاندی راولی دویلو وړ مطلب داچی افغانستان دامریکی پواسطه سره د لمړی پنځوکالو داشغال په موده کی دتریاک دتولید مقدار اواندازه یی په اصغری بنی سره له (۱۸۰) ټن څخه تر (۸۲۰۰) ټنه پوری ثبت شوی دی - **نوددی پورتنی یا دونو په نظر کی نیولو سره داسی راښکا ری چی د افغا نستان په خا وره کی د لرغونی یونان دافسا نو اودقصو په روایت سره دښامار غاښونه کرل شوی دی اوهغه داچی د کوکنار دهر بوټی د حا صل سره سم یوه نوی ځوان جنګیا لی طا لب را زیږی اود طا لبا نو په لیکو کی ورګډ یږی نو په دی صورت سره ویلی شو چی د طا لبا نو دودی اود هغوی دشمیر زیا تید نه د کوکنا ر د کرکیلنی سره اړین اونه بیلیدونکی دی .**

افغانستان دخپل تاریخ د تیرو څلوینتو کلونو په هره پړاو کی له ګونګسی ډک غمجنه پیښنو سره مخامخ شوی دی ........ دکال (۱۹۸۰) پیښی او پنها نی جګړی ، د(۱۹۹۰)

کال کورنی جګړی او دهغه اشغال دامریکی د متحده ایالاتو په واسطه سره په کال (۲۰۰۱) کی هغه ناهیلی اوغمجنی پیښی دی کوم چی په هره پړاو کی اوپیوم (کوکنار) په حیرانونکی بڼی سره خپل مهم نقش ددغه هیواد دبرخه لیک په ټاکلو کی لوبولی دی . دبلی خوا څخه دغه هیواد دخپل سرنوشت په یوتریخ پیچلی تاریخ کی دخپل ځانګړی چاپیریال ژوند په لرلوسره دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی تکنا لوژی په ملګرتیا سره دغه په وچی پوری احاطه شوی هیواد په نړی کی دمخدره توکو په یوه لمړنی دولت باندی بدله شو یعنی په داسی یو هیواد کوم چی دهغه په اقتصاد – د هغه په سیا سی کړنلاره دهغه په راتلونکی برخه لیک اوپه هغه کی دباندنیو اودپردیو لاس وهنه تول دمخدره موادو په واکمنی سره ترسره کیږی .

**پټی یا پوښلی جګړي (۱۹۷۹-۱۹۹۲):** د سی آی ای (CIA) پټه او مخفی جګړه دشوروی اتحاد دافغانستان داشغال پرضد د (۱۹۸۰) کال په ترڅ کی دافغانستان پاکستان د پولی ترمینځ له قانون څخه فارغ اوآزاده سیمه کی دکوکنارو کر کیلنی اوکرهنی د پا ره ستر کمک ورسول اودغه سیمه د نړی په سطح دهیروین دڅا بت اوپایدار تجارت په اډه یا مارکیت باندی بد له شو- لکه هغسی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنیوچارو وزارت پخپل (۱۹۸۶) کال راپور کی داسی په ډاګه کړی وه : دلته په دی قبایلی سیمه کی نه پولیس شته – نه محکمه – نه مالیه اونه هم دوسلی اود توپکو دلرلو کوم مما نعت ، دلته چرس اوتاریاک په ړنا ورځ کی دخرڅلاودپاره هرچیری ترسترګو کیږی اودهغه دخرڅلاوپه مقابل کی هیڅ کوم ممانعت نه لیدل کیږی اودغه بهیرله اوږدی مودی څخه راهیسی په همدی قبایلی سیمه کی روانه دی بی ویلو دی پاتی نشی چی آژانس له دی نه چی دمقاومت ډلی تپلی سره چی د شوروی اتحاد په ضد جګړه کی سره راښکیل وه یوه ایتلافی جبهه جوړ کړی برعکس نوموړی آژانس (سی آی ای) د پا کستا ن پر جا سوسی او استخبارتی اداره (ISI) باندی ډیره ولګول اوپه دی وخت کی دهغه افغانی مشتریا ن یا دمعا ملی انډیوالان ډیر زر دپولی دکوکنا ردتجارت په اصولو با ندی پوه شو اود کوکنا ر په راکړی ورکړی اود هغه په انتقال اوترافیک با ندی پیل وکړل .
دلته هیڅ دحیرانتیا ځای نه پاتی کیږی او هغه داچی آژانس دتاریاکو په اړوند یو ه بله لاری ته وګوری اودا ځکه چی په افغانستا ن کی بی له کوم کنترول او مما نعت څخه دتریاکو په کرکیلنه او کرهنه کی دهر کال په تیریدو سره زیاتوالی ترسترګو کیده مثلاً په کال (۱۹۷۰) کی دتریا کو حاصل (۱۰۰) ټنه وه حال داچی په کال (۱۹۹۱) کی دهغه حاصل (۲۰۰۰) ټنو ته ورسید ل .
دامریکی دمتحده ایالاتو استخباراتی اداره یعنی (سی آی ای) دافغانستان اود پاکستان دپولی تر مینځ سیمه کی د ډیرو هڅی اواند په لړ کی وتوانید ل چی د تریا کو دتصفیی کولو اودهغه اړول په هیروینو باندی د لابراتوارونو شبکی جوړ کړ کوم چی دهمدی

لابراتوارونو په پرانیستلو سره نوموړی منطقه د نړی دهیروینو دتولید په منطقه باندی تبد یل شو اودهغه محصولات د نړی په مارکیټونو کی د خرڅلاو د پا ره ځای پیداکړ د بیلګی په بڼه په کال (۱۹۸۴) کی ددی هیروینو (۶۰) سلنه د امریکی (۸۰) سلنه داروپا په مارکیټونو کی د خرڅلاو د پا ره لاره پیداکړ بی ویلو دی پا تي نشی چی په پاکستان کی په کال (۱۹۷۹) کی د تریاکو سره دمعتا د ینو شمیر (صفر) وه اما په کال (۱۹۸۰) کی دمعتا د ینو شمیر (۵۰۰۰) اوپه کال( ۱۹۸۵) کی دمعتادانو شمیرتقریباً (۱۳۰۰۰۰۰) تنو ته ورسید کوم چی د معتا د ینو دغه شمیره د ملګرو ملتونو له خوا یو ډیر لوړ اوبوږنونکی شمیر او رقم وګڼل شو کوم چی ډیر د تشویش وړ خبره دی .

دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنیو چارو دوزارت دکال (۱۹۸۶) راپور پر بنیاد کوم چی په هغه راپورکی راغلی دی چی په یو جنګ ځپلی هیواد لکه افغانستان کی اوپیوم یو مطلوب او په زړه پوری محصول دی چی دهغه د تولید او دلاسته راوړنی د پاره لږ پا نګی اچونی ته ضرورت لیدل کیږی اودبلی خوا څخه دغه بوټی ډیر زر وده اوپه حاصل راځی اوپه ډیر آسانی سره دهغه ترافیک صورت نیسی له نیکه مرغه افغانستان هغه هیواد دی چی دهغه اقلیم نسبت داسیا سهیل ختیځ طلای سیمی څخه چی مخکی هلته دهیروین دتولید دپاره پا نګی اچول کیده د هغه په پرتله دری واره مساعد دی. د هغه بیرحمانه جګړی په ترخ کی چی دشوروی اتحاد اودامریکا د(سی آی ای ) تر مینځ په افغانستان کی صورت وموند له بده مرغه دری میلیون افغانان مهاجرت وکړل او په افغانستان کی د غذایی موادو تولید ته ستر زیان ور په برخه شول اوهغه داچی افغانی بزګران له دی نه چی غنم – جوار اویا کوم بل شی وکری دکوکنارو کرلو ته مخه کړل ځکه چی دغه بوټی په ډیر آسانی او په کم آبی سره زر وده او زر حاصل ورکوی او دهغه دکرکیلینی په مقابل کی کوم خنډ اوموا نعت لکه چی مخکی موجود وه اوس نه تر سترګو کیږی اوهم دهغه له خرڅلاو څخه زیات ګټی نسبت د نورو کرهنیز موادو څخه تر لاسه کیږی چی دا پخپله دنورو خوراکی مواد و په قیمت کی اثر غورځوی یعنی دنورو خوراکی موادو قیمت په مارکیټ کی پورته ځی په هرصورت دافغانستان ضد یا د مقاومت ډلی دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نیو وزرارت دراپور پر بنیاد دهیروین تجا رت ته مخه کړل او دکوکنارو په راکړی اورکړی باندی پیل کړل او دهغه خرڅلاو څخه لاسته راغلی پیسو با ندی سلاح او جنګی مهما ت د سلاح خر څونکی تجارانو اوهیوادونو څخه راپیرودل او د خپل د نفوذ لمن په افغانستا ن کی دهری ورځی په تیریدو سره پراخول . یعنی د مقا ومت ډلی تپلی دتاریاکو دراکړی ورکړی پربنیاد لا تراوسه دافغانستان ددولت پر ضد په جګړه کی بخت دی اوتر خپل لاس لاندی سیمو کی د تریا کو دلاسته راغلی پیسو په لګښت سره خپل حاکمیت ته وده ورکوی.

دیا دونی یو بل مهم مطلب داچی کله چي دافغانستا ن مجاهید ینویو څه قدرت او واک تر لاسه کړل نو د(۱۹۸۰) کال په لمړیو کی دافغانستان په دننه کی ځنی سیمی ترخپل

ولکی لاندی راوستل اوبیا د هغی سیمی له بزگرانو څخه دما لیا تو په راتولولو باندی پیل کړل خصوصاً د هلمند په حاصلحیزه سیمه کی چی هلته بزگرانو تریاک کرل یعنی هغه سیمه چی یووخت دافغانستان په جنوب کی له ډ یر حاصلخیزو سیمو څخه یا د ید له. په یاد مو باید اووسی چی دغه سیمی ته دسی آی ای (CIA) دسلاح اودجنگی مهماتو کاروانونه را رسید ل اوبیا بیرته همدغه را رسید لی سلاح اوجنگی مهما تو سره دتریاکو بارونه او بوجی بیرته پاکستان ته وړل کیدل لکه هغسی چی نیویارک تایمس ځنی وختونه پخپل راپورونو کی په ډاگه کړی چی جنگی مهما ت اوکن شمیر سلاح د پا کستا نی اود امریکایی افسرانو په مرسته او موافقت سره د ننه په پا کستان کی د افغا نستا ن د مقاومت د ډ لو تپلو په اختیا ر کی اچول کوم چی دهغو سیمی تولو خلکو ته لکه لمر په شان روښا نه دی.

نو کله چی افغانی مجاهید ینو دتریاکو محمولی یا خریطی دپولی څخه ها خوا پاکستان ته راوړل نو بیا یی دپاکستان په دننه کی دهغه هیواد دهیروینود تصفیه کولویا دهیروینو دپالایشگاه پر اداره باندی کوم چی دپاکستان په شمال ولویدځ ولایت کی دپټی جگړی یوه مخفیانه اداره د (سی آی ای) پواسطه سره جوړشوی وه او(سی آی ای ) دهغه اداری واک خپل یو ډیر نژدی پاکستا نی متحد جنرال فضل الحق ته سپارلی وه خرڅول - هلته یو څه وړاندی په جنوب کی دبلوچستان په ولایت کی دسلطان په غره (کوه سلطان) کی (سی آی ای ) ته ډیر نژدی او په زړه پوری معتمد **گلبد ین حکمتیا ر** دهیروینو شپږ لوی تصفیه خا نی یا پالایشگاه ترخپل کنترول لاندی لرل چی له هلمند څخه دتریاکوزیات حاصلات همدغو تصفیه خانو ته راوړل کید ل اودلته بیا په هیروینو با ندی اړول کیدل - پس له هغه دغه تصقیه شوی تریاک یا هیروین دپا کستان دیوځ د لوژستیکی اداری په لاریو او کاډو باندی با رونه دکراچی بندر او هوای ډگر ته راوړل کیدل چی بیا له هغه ځایه څخه د(سی آی ای ) پواسطه سره د نړی مارکیټونو ته لیږدول اوبیا له هغه خوا څخه هغه سلاح او جنگی مهمات کوم چی د(سی آی ای) په مرسته سره دکراچی تر بندره رسید لی وه په همد غو لاریو اوکاډو باندی دافغانستان پاکستا ن تر پولو راوړل کیدل اوبیا دافغانی مجاهدو د جنگیا لو په اختیار کی ولویدل .

په کال (۱۹۹۰) کی کله چی د مخفی جگړی عملیا تونه ودرول شو واشنگټن پُست د خپل په یو گڼه کی داسی راپور خپور کړ اویا داسی ادعا وکړچی گلبد ین «حکمتیار» د افغانی شورشیانو مشر هم دهیروین یوستر قاچاق وړونکی شخص دی - اما دامریکی لوړپوړی چاروا کی دواشنگټن پُست دغه ادعا وروسته له اوږدی مودی څیرنی اوارزیابی څخه چی دهیروینودقاچاق اودراکړی ورکړی په اړه پر**گلبد ین** اوپر (آی اس آی ) باندی تهمت شوی وه دروغ وگڼل او هغه یی ردکړ او دا ځکه چی امریکی په افغانستان کی پرهیروینو با ندی د خپل پا لیسی په نظرکی نیولوسره نه غوښتل چی خپل اعتبا ر په منطقه کی دلاسه ورکړی اوپرخپل دوساتانو با ندی تهمت ولگوی بلکه دامریکی دښمنی

دروسانو په ضد وه چې هغوی باید له افغانستان څخه ووځي.
پخوانی مسول مد یرښاغلی چارلیس کوګان (Charles Cogon) پخپل یوخبری ناسته کی په ډیر رغنده اورک راست وینا سره دخپل اداری(آژانس) دماموریتونواوددند ودتیا کلو اودسرته رسولو په اړین وویل چې زمونږ ډیرعمده هد ف اوماموریت په افغانستان کی دا وه چې په څه شکل سره روسانو ته تاوان او ضرر ورسو هغه په کال (۱۹۹۵) کی داسترلیا د تلویزیونی یو شبکی سره په مصاحبه کی وویل چې مونږ ته له یوی خوا فرصتونه میسر نه وه اود بلی خوا څخه مونږ پخپله وخت او فرصت نه درلودل چې دهیروینو په راکړی ورکړی اوتجا رت باندی خپل وخت دلاسه ورکړو اوزه فکر نه کوم چې په دی مورد کی له چا څخه معذرت وغواړو اما دلته ضرور ګنل کیږی چې ووایم اوهغه داچې دهیروینو بازار په هغه وختونو کی یوڅه سقوط سره مخه کړی وه لاکن زمونږ اصلی هدف داوه چې په څه شکل سره روسان مجبور کړو چې له افغانستان څخه پښی را سپکی کړی .
**د ا فغا ن کورنی جګړه اودطا لبا نو ظهور( ۱۹۸۹-۲۰۰۰ ):** د پټی مداخلی په اوږدموده کی(اوهغه هم په ښکاره اوپه ویاړنی سره لیکنه) د یوجیوپولیتیکی بی ثبا ته رامینځته شوی تورکدهل«سیاه چال» په مهرلاک شوی بنی سره او یا وروسته له هغه څخه په روغ رمټ راوتنه نه دی ترسترګو شوی .
دا له حقیقته څخه لیری خبره دی اوهغه دا چې وویل شی چې دافغانستان شمالی سیمی د موسمی بارانونودفصل په را رسید و سره هغه وچې منطقی دبا ران په اوبوسره خړوبه نشی اما له بده مرغه له هغه وخته چې امریکا پر افغانستان باندی د لمړی ځل د پاره یرغل اوتهاجم ترسره کړه هسی بی سا ری تباهي په افغا نستا ن کی نه وه رامینځته شوی چې تاریخ به هغه هیڅکله له یا ده ونه باسي .بی غیر له هغه سیمو څخه چې داوبو تر خړاولاندی راځي یا للمی سیمی نه دی لکه دهلمند لوی وادی دافغانستان نور ی لوړ پراته نیمه وچی سیمی اکثراً دیو بی ثبات او شکنن ایکو سیستم سره مخامخ کیږی کوم چې دلمړی ځل دپاره دهغو سیمو خلکو دجګړی په پیل سره په کال (۱۹۷۹) کی تر سخته فشار لاندی پریوتل دیادونی وړ بل مطلب داچې کله جګړه د (۱۹۸۹) ا و (۱۹۹۲) کلونو ترمینځ کی یو څه له خپل شد ت څخه وغورځیدل واشنګټن اودهغه پوری تړلی متحد ین له افغانستان څخه خپل سیاسی نماندګی رااوویستل او وروسته له هغه بیا له دی نه چې په دی هیواد کی به سوله راشي اویا دغه هیواد بیا له سره و رغول شي واشنګټن له سره هیڅ علاقه ونه ښودل او افغانستان یی بلکل له سره هیر کړ.
لکه هغسی چې واشنګټن په نورو ځایونو کی په ډیر آسانی سره داخلی جګړی ته لاره اواروی دلته په افغانستان کی هم داخلی جګړی ته لمن ووهل چې ددی باطل جګړی په نتیجه کی یونیم میلیون افغانانو خپل ژوند دلاسه ورکړل – دری میلون له خپل تاټوبی

ځخه مهاجر ته مخه کړل- دهیواد اقتصاد دړی وړی اوخراب شول او یو تولګی افغانی جنګ سالاران د قد رت دتر لاسه کولو دپاره دجګړی لمن لاپسی پراخه کړل اودخلکو په وژنه اودهغو دشتمنیو په لوټولو پیل کړل او دهمدی جګړیز کلونو په اوږدو کی افغانی بزګرانو دهغه یوائنی محصول دکرلونیت وکړچی دهغه له خرڅلاو ځخه ئا بت او ډیری پیسی تر لاسه کیږی چی هغه کوکنا ر دی کوم چی د افغا نستا ن په اکثرو سیمو کی بیا دکوکنار کرکیلنه تر سترګوکیدل ددی محصول یعنی دتریاکو حاصلات د دی باطل جنګ دکلونو په اوږدو اویا دمخفی جنګونو په دوران کی تر (۱۹۸۰) کال پوری شل چنده زیا ت شو چی تر (۲۰۰۰) تنه پوری ورسید اوبیا په ځا نګړی بڼی سره دهغه حاصلات د داخلی جګړی په موده کی دوه چنده شو .

دبلی خواځخه که چیری دکوکنارو دحاصلاتو دلوړیدو دغه ناکراره دوری ته په غور سره وکتل شی نودی پا یلو ته رسیږو چی دغه دوره ددوه لسیزو دشدیدو اودورانونکی اوضرررسونکی جګړو محصول دی چی دغه هیواد خپل ټول شتمنی اوزیربنا یی تا سیسا ت دلاسه ورکوی . دبلی خوا ځخه که چیری دغه دری میلون مهاجر دغه جنګ ځپلی اود تریاکو کرهنیز خمکی ته کوم چی دکا ر سره زیات علاقه لری بیرته راستون شی نو په هغه صورت کی هغوی نه چنده کارګرانو ته ضرورت لری چی په دی هیواد کی هغوی ته سنتی محصول چی غنم دی وکری – سربیره پر هغه باندی ایا د تریاکو تجاران او معا مله ګران کولای شی چي په ډیر چټکی سره هومره کافی اندازی پا نکی زیرمه کړی چی وشی کړلی د تریاکو د کرلو هغه فقیر بزګرانو ته یو مقدار پیسی د پیشکی په ډول ورکړی کوم چی دهغوی دیوکال دعا ید ا تو له نیمایی برخی ځخه زیا ته وی - یعنی هغه مقدار پور (قرضه) چی وشی کړلی د بیوزلو کلیوالو د بقا د پا ره مهم ثابت شی یعنی هغوی له مړنی ځخه وسا تی ؟

دداخلی جګړی په لمړی پړاو یعنی له (۱۹۹۲) کال ځخه تر (۱۹۹۴) کال پوری محلی او سیمیز جنګسالاران په ډیر بیرحمانه بڼی سره دقدرت دترلاسه کولو په منظور دتریاک اود سلاح دلاسته راوړلو دپاره دهیواد په ټولو برخو کی دجنګ اوجګړی اور ته پکی ووهل اودجګړی په موده کی داسی پریکړی شوی وه چی دافغانستان په پلازمینه کی خپل یو پښتون زعیم اومشرپه واک او قدرت ورسوی چی ددی هد ف دسرته رسولو دپاره پاکستان دخپل استخباراتی اوجاسوسی اداری (آی اس آی) له طریقه سلاح او نقده پیسی ګلبد ین «حکمتیار» کوم چی د پا کستا ن ډیر نژدی معتمد اواصلی مشتری وه ورته تحویل ورکول کیده - حکمتیار هغه وخت په نوم سره دافغانستان دشکنن ایتلاف لمړی وزیر وه اودایتلاف له اوآمرو ځخه سرغړونه کول اود هغه پوری تړلی جنګیالی تر دوه کالو پوری په دوامداره بڼی سره پر کابل باند راکټ اومزایل ویشتل چی کابل یی په مخروبه او کنډوالی باندی بدله کړ او نژدی (۵۰۰۰۰) کابلی ښاریان یی ووژل – کله چی حکمتیار دافغانستان دپلازمینه کابل په جګړه کی ما تی وخوړل او ونشو کړلی چی

کابل فتح کړی نوپه دی وخت کی پا کستان دهغه له ملاتړاو حما یت څخه لاس واخیست اودپیښتنو یوه بله تازه دم جنګی قدرت د مینځته راوستلو په لټه کی شو اودطا لبا نو ډلی کوم چی دپاکستان په اسلامی شبهه نظامی مدرسو کی لوست کول هغوی را مینځته کړل اودهغو تر شا ودرید چی باید دغه نوی ډلی په افغا نستا ن کی دولتی قدرت تر لاسه کړی .

وروسته له هغه چی په کال (۱۹۹۶) کی طالبانو کابل تر خپل کنترول لاندی راوستل نو په ډیر کمه موده کی دافغانستان اکثر نوری برخی هم تر لاسه کړل ، په دی وخت کی طالبان افغانی بزګران وهڅول چی دخپل په ټول خمکو کی ترياک وکری اودخپل دولت دساتلو په نیت سره تجارتی اوصادراتی فعالیتونو ته مخه کړل اود خلکو څخه دما لیا تو په را ټولولو پیل وکړل خصوصاً دهغو بزګرانو څخه زیات ما لیه تر لاسه کول کوم چی هغوی پخپلو خمکو کی ترياک کرل په هرصورت دطا لبا نوزیات هڅی په دی کی وه چی په افغانستان کی دترياک حاصلات زیات شی چی دهغه زیاتو حاصلاتو څخه زیات هیروین تر لاسه شی لکه هغسی چی د طا لبا نو دواکداری په لمړی دری کلونو کی د ترياکو حاصل په افغانستان کی د ملګرو ملتونو داوپیوم دسروی داداری دراپور په استناد (۴۶۰۰) ټن وښودل شو. کوم چی په هغه وخت کی د ټول نړی د ترياکو د حاصلاتو (۷۵٪) تشکیلول .

دجولای په میا شت کا ل (۲۰۰۰) کی هغه وخت چی په افغانستان کی ویرانونکی وچکا لی خپل دوم کا ل ته را داخلید ل نو په همدی وخت کی د قحطی اود لوږی لمن دافغانستان په ټولو برخوکی غوړید لی وه او ټول خلک دلوږي دستونزی سره دمرګ په پوله کی ولاړ وه نو په دغه وخت کی طالبانو سمدلاسه دیو فرمان په صادرولو سره په افغانستان کی دترياک کرل بلکل بند او لغوه کړل اودا ددی دپاره چی د نړی هیوادونه دهغوی اما رت یا دولت په رسمیت وپیژنی اود طا لبا نو درژیم سره مرسته و کړی – دطالبانو ددغه پریکړی څخه وروسته دملګرو ملتونو د ترياکو د د ډیپارتمنټ یا داداری له خوا دیو سروی په ترڅ کی چی دافغانستان له (۱۰۳۰) کلو او قصبا تو څخه ترسره شو داسی را څرګند شو چی په هغه کال کی دتریا کو کرکیلنه اوزراعت تر (۹۴) سلنه را ټیټ شوی وه یعنی دتریا کو مجموعی حاصلات په ټول افغانستان کی ( ۱۸۵) ټنه وه .

دری میا شتی وروسته طالبانو نیویا رک مرکزی مقعر ته یو پلاوی دبا ند نیو چارو دوزارت مرستیا ل ښاغلی عبد الرحمن «زاهد » په مشری واستول کوم چی دغه پلاوی دتریا کو دکرلو دممنوعیت فرمان اوسند یوه نسخه دملګرو ملتونو رسمی څانګی ته هم وسپارل ، اودغه پلاوی له ملګرو ملتونو څخه و غوښتل چی دهغوی دولت په رسمیت سره وپیژنی اوهم هغه اقتصادی بند یزونه چی په افغانستان کی داوسامه بن لادن داقا مت له کبله وضع شوی وه هغه بند یزونه له مینځه ویسی .د بلی خوا څخه

په همدې وخت کې سره دهغه نیوکې چې ملګرو ملتونو پرطا لبا نو باندې داوسامه بن لادن د ساتلو په اړه درلود ٬ دامریکې متحده ایالات ( ۴۳) میلیون دالر طا لبا نو سره دبشردوستانه تر عنوان لاندې د مرستې اعلام وکړ د دغه مقدار پیسې اعلام په کال (۲۰۰۱) کې دامریکې دمتحده ایالاتو دبا ند نیو چارودوزیر کولن پول (Colin Powell) پواسطه سره تر سره شو او کولن پاول له دې نه چې طالبا نو دکوکنار دکرلو ممنوعت اعلان کړی دهغو دغه اقدام وستایل او څرګنده کړ چې دا یو په زړه پورې پریکړه وه او مونږ دطا لبا نو له دغه پریکړې څخه هرکلی کوو ا ما سره د هغې هم زمونږ او د طا لبا نو ترمینځ ځنې موضوعات شته کوم چې زمونږ دجدا یې سبب شوی دی او هغه داچې باید دتروریزم پر ضد وجګیږو بشر حقونو ته درناوی وکړو اوبیا په ځانګړې بڼې سره دښځو او دانجنو حقونه نه باید تر پښو لاندې کړو اویا دهغوی آزادی سلب کړو .

**د ترهګرۍ ضد جګړه (۲۰۱۶-۲۰۰۱):** ا فغا نستا ن د یوې لسیزې له سترګو غورځونو څخه وروسته واشنګتن د(۹/۱۱) دپیښې څخه وروسته وتوانیدل هغه ځای را کشف کړې اویا یې وپیژنې چې له هغه ځای څخه د (۹/۱۱) د پیښې دسرته رسولو بند وبست شوی وه اودغه ځای دواشنګتن دلوړ پوړی مقامات په باور افغانستان وه نو داکتوبر میاشت کال (۲۰۰۱) کې لمړی پر افغانستان باندې بمی هوای یرغل پیل شو او وروسته بیا د سیمیزو افغا نی جنګ سالارانو څخه دبشپړ یرغل مجوز واخیست شو چې امریکا کولای شي پر افغانستان باند تهاجم اویرغل وکړی ... دنیویارک تایمس دیو راپور پر بنیاد کوم چې دیو مخکینی زوړ سرتیری اپل (R.W Apple) څخه نقل کوی وایی ..چې دا څومره ډیر په چټکې سره دحکومتی چاروا کو اود شنونکې ستراتیژیستا نو وړاند وینی نتیجه ورکړ چې دهغه توضیح چندان ګران اوستو نزمن نه دی — با وجود دهغه چې دامریکې دمتحده ایالاتو دهوایی قوتونو یرغل اوبمبارد ځنی قابل د ملاحظې فزیکي او سیکالوژیکی تخریباتو سره مل وه اما د ځنو ډیرو نورو تولنو کوم چې په هغو باندې لا ډیر زیات بمباری ترسره شوی وه ددې بمباری په څیر کوم چې پر افغا نستا ن باندې ترسره شوه د سقوط سره په دومره چټکتیا نه وه مخامخ شوی . د تیرې یا دمخکینی لړلید په نظرکې نیولو سره داسې په نظر راځی چې دتریاکو ممنوعیت کوم چې دطالبانو له خوا ترسره شو هغوی د خا لص اقتصا د له پلوه داسې کمزوره کړې وه یا دهغوی کولمې را ایستلې وه چې دامریکې دیوه بمب سره هغوی مجبور شو چې خپل تش په نامه دینې حکومت دلاسه ورکړی اود ما تې سره مخامخ شی .

دبلې خوا څخه تر یوې کچې پورې په کلی توګه سره ممنه اوقدردانی نه کیده او هغه دا چې افغانسا ن دخپل منابعو ډیره برخه پکا ر اچولې وه ... پانګې ، خمکه ، اوبه او بشری قوا ... اوهغه هم داوپیوم اودهیروین دتولید دپا ره .دطالبانو دواکمنی په وخت کې په دغه کرهنیز هیواد کې دنورو زراعتی محصولاتو کرل منع او محدود شوی وه

او هغه يواځني محصول چې دهغه کرل زيا ت  مروج شوی وه هغه  کوکنار وه.  هغوی يعنی طالبان خپل زيات ما ليی عوايد د تا رياکو له تجارانو څخه د  ما ليی  په راغونډولو اودصادراتی مواد  له تکس څخه اود   استخدام کړل  شوی اشخا صو څخه دعشر تر نامه لاندی   ترلاسه کول نو دهمدی موضوع  په نظر کی نيولو سره  کله چې طالبانو دترياک کرل ودرول نو هغه  په واقيعت يو اقتصادی خپل وژنه يا اقتصادی انتحار وه چې دهغوی قدرت اودهغوی ټولنه تر  هغه حدی پوری کمزوره کړ چې په آسا نی سره هغوی د سقوط اودګرنګ په لور وليږدول .  دطالبانو له طرفه  د ترياک د کرلو ممنوعيت   کوم  چې  د ملګرو ملتونو ديوسروی  له مخی  چې  په کال (۲۰۰۱) کی ترسره کړ  دهغه پايلی داوه چې طالبانو  په ډيرو برخوکی خپل عايدات دلاسه ورکړی وه  يعنی په تخمينی ډول سره د (۳،۳)ميليون وګړو څخه دعايداتورا ټولونه چې تقريباً  دنفوس (۱۵) سلنه  جوړول  په شمول د (۸۰۰۰۰)  بزګران  چې  خپل  بزګری  خوشی  کړی وه ،   او  په  حدود د(۴۸۰۰۰۰)  دوره ګر اومزدور کارګران اودهغوی پوری  تړلی  په  ميلينونو د کورنی غړی .وه  کوم  چې  ټول د ترياک د کرلو اودراکړی ورکړی څخه  خپل  معشيتی ژوند مخکی وړل .

په هرصورت په داسی حال کی چې دامريکی دمتحده ايالاتو هوايی قوتونه  داکتوبر په ټول مياشت کا ل (۲۰۰۱) کی  خپل له قهره ډوک بمبا ريو ته  دوام ورکول – د(سی آی ای)  سازمان   «۷۰» ميليون نقده ډالر په مستقيم  اوپه نقدی بڼی سره  مخکينی  شما لی ټلوالی قبيلوی جنګسالارانو ته ورکړ- چې هغوی خپل پلی قوتونه  په ځمکنی  جګړه کی



په چپه خواکی محمد قسيم «فهيم» دشمالی ټلوالی قوماندن د(سی آی ای) له مرستی څخه مننه کوی  اماکله چې دامريکی دهوايی قوتونو حملی پيل کيږی يوڅه  شانته حيرانيږی ( Brennan  Linsley AP)

دطا لبا نو د بشپړ انقراض او ما تولو په خاطر  پلی  اوپياده  کړی  ،  جورج  والتر بوش (G.W.BUSH) له دغه  تاريخی  اوبی سا ری   معا ملی  څخه   چې   د شما ل  ټلوالی جنګسالاران  په ډير کمو  نقده پيسو با ندی  سره جوړ راغلل  له  نوموړو  جنګسالارانو

څخه بشپړ ستا ینه وکړ کوم چې همدغه قبیلوی جنګسالاران دامریکی قوتونو ته اجازه ورکړ چې کابل دافغانستان پلازمینه او نور لوی اوکلیدی ښا رونه دطا لبا نو له واکمنی څخه آزاد اوترخپل ولکی لاندی راوړل - له یاده باید ونه باسو چې دغه نقده ډالر د(سی آی ای ) د مسول غړی په واسطه سره دغه قبیلوی شما لی تلوالی جنګسالارانو با ندی وویشل شو یاهغوی ته ورکړ شو دا هغه وخت دی چې طا لبا نو لا پوره ما تی نه دی خوړلی دلته یوه بله موضوع چې دهغه یادونه ضرور ګڼل کیږی هغه دادی چې دطالبانو دواکمنی په کلونو کی دغه د شمالی تلوالی جنګسالاران په شما ل کی د تریاک دقاچا ق اودراکړی ورکړی په تجارت کی سره بخت وه اودهغوی ورځنی کار د تریاکو دراکړی ورکړی اودحمل وانتقال مصروفیت وه – د بلی خوا څخه کله چې طا لبا ن له واکه نسکوریږی د (سی آی ای ) سا زمان هڅه کوی چې دافغانستان په جنوب کی دپښتنو یوه ګروپ اویا دهغه منطقی جنګسالاران سره راتول کړی او هغوی وهڅوی چې د تریا کو په تجارت او قاچا قو باند لاس پکا ر شی اودغه تجارت ته په خپلو سیمو کی ښه رونق ورکړی .

کله چې دکابل ښار اودافغانستان دولایاتو نور لوی ښارونه دامریکایانو ترولکی لاندی راغی نو په دی وخت کی دامریکی دمتحده ایالاتو جاسوسی اداره (سی آی ای ) په ډیر چټکی سره دعملیاتوڅارنه اورهبری خپل متحد او ملکی مسولو افغانی مقاما تو ته سپاری یعنی هغو ته کوم چې هغوی مخکی په نا بلد تیا او یا په نا پوهی سره غوښتل چې پولړپروګرامونه دمخدره موادو دکار وبا ردمینځه وړلو او د هیروینو څخه دلاسته راغلی سو دڅخه په راتلونکی کلونو کی پلی اوترسره کړی هغه پروګرامونه چې دلمړی ځل دپاره همدغه جنګسالاران اوبیا وروسته له هغودطالبانوجنګیالی د دغه پروګرامونو د پلی کولو په هڅه کی وه .د افغانستا ن اشغال دامریکایا نو پواسطه سره د لمړی کال څخه مخ کی دغه حرکت سره دهغی چې پخپل سر له سره رغول شوی وه او هغه داچې دتریاکو حاصلات په هغه وخت کی(۳۴۰۰) ټنو ته لوړشوی وه چې دهغه وده په تاریخی لحاظ سره بی ساری اوفوق العاده وه کوم چې دمخدره موادو څخه تر لاسه شوی پیسی په کال (۲۰۰۳) کی دتولید ناخا لص داخلی (GDP) – (۶۲) سلنه جوړول- دامریکی دمتحده ایالاتو پواسطه سره دافغانستان داشغال په څو لمړی کلونو کی **دونالد رامسفلد** (Donald Ramsfeld)په کلی ښی سره رد کړ چې دمخدره موادو څخه لاس ته راغی پیسی طا لبا نو ته نه ورکول کیده اودبلی خوا څخه (سی آی ای) اودا مریکی دمتحده ایالاتو د پوځ ستر چاروا کی خپل ړوند سترګی د نا می قاچاقبرو جنګ سالارانو خواته اړولی وه .

د(۲۰۰۴) کال په وروستیو کی پس له نژدی دووکالو څخه کوم چې په هغه کلونو کی داسی ښکاریده چې په راتلونکی کی دی موضوع ته چندان علاقمندی نه وه

او هغه داچي د اوپيوم د کنترول يا دهغه د با ندی سپاريښتنه متحد بريتا نيا اويا د پوليسو دترينڼګ ورکول هيواد يعنی جرمنی ته وروسپارل شی ، سپينه ما نۍ سمدلاسه د (سی آی ای) ديولږ ستونزو سره مخا مخ شوه او هغه داچي که د مخدره موادو تجارت زيات شی اويا ښه رونق ونيسی نو په نتيجه کی ددی ويری شته چی طا لبا ن بيا له سره ژوند شي ، په دی وخت کی دجمهورريس بوش په حمايت اوملاتړسره دامريکی دباندنيو چارو وزير کولن پاول د يو پيشنها د په ترڅ کی داسی طرح وړاندی کړ چی با يد دترياکو دکشت او دهغه د کرکيلنی د مينځه وړلو د پا ره يوه بنيادی ستراتيژيکی هوايی مبارزه لکه هغسی چی په ويتنام کی تر سره شوی وه پيل شی يعنی دتريا کو بوټی په هوايی ګذار سره له مينځه ويوړل شی اما په افغانستان کی دامريکی د متحده ايالاتو لوی سفير ښاغلی **خلمی** «خليل زاد ) اودوم سړی يعنی **اشرف غنی** وه کوم چی دخليل زاديو نژدی متحد وه چی بيا هغه وروسته په افغانستا ن دما لی وزير مقرر شو او اوس دافغانستان جمهور ريس دی دکولن پاول ددی وړانديز په مقا بل کی سخت مقاومت وکړل اوداسيی وښودل چی که دترياکو تجارت اودهغه کشت اوکرهنه له بيځه ودرول شی نو په هغه صورت کی حد ا قل (۲۰) مليارد دالر با ند نی مرستو ته به ضرور ت وی چی دغه هيواد اودهغه خلک خپل عا دی معشيت اوژوند مخی ته ويسی .

په هرصورت دجوړجاړی په بڼی واشنګټن په دی فکر کی ولويد چی دکوکنارو دمينځه وړلود پا ره ديولږ حرفوی اوخصوصی پيمانکارانو سره لکه د دين کورپ (Dyncorp) د پيما نکارموسسی سره بايد قرارداد وکړی چی په افغانستان کی دترياکودمينځه وړلو ټيم ته ترينڼګ اوآموزش ورکړی په دی وخت کی د نيويارک ټايمس استا ذی ښاغلی کارلوتا (Carloota) دواشنګټن دغه اقدام د يوه ټوکه او ټکالی په ښه ارزيابی کړ - دوه کاله وروسته کله چی دطا لبا نو بغا وت او هم دترياکوزرا عت اوکرهڼی اندازه زيا ته شو اويوپه بل با ندی (داوپيوم دحاصلاتوزياتوالی اود طالبانوبغاوت اوشورش) سنيرجيستيک ( يودبل سره مرسته کول اويا يوپر بل داغيزی زيا تيد ل) تاثير وغورځول ، په افغانستان کی د امريکی دمتحده ايالاتو بيا له سره د کابل پر رژيم باندی فشار واچول چی دهوايی يرغل سره دکوکنارو کروندی با يد له مينځه ويوړل شی هسی چی امريکا په کولمبو با ندی تر سره کړی وه ومنی- اما داخلی « حامد کرزی» ددی طرحی سره مخالفت وکړ کوم چی دغه پرابلم لاتراوسه لا ينحل پاتی دی .

په کال (۲۰۰۷) کی دافغانستان اود ملګرو ملتونو داوپيوم (ترياک) دسروی ګډ ټيم داسی پايلی ترلاسه کړ چی په افغانستا ن کی د تريا کو حاصلات چی (۸۲۰۰) ټنه وه د نړيوال ثبت شوی مقدار کوکنارو (۲۴) سلنه تشکيل کړی وه چی دهيواد دناخا لص توليد (GDP) « ۵۳» سلنه اود ټول نړی دترياکو دتوليد (۹۳) سلنه راجوړکړی وه . داهميت وړ خبر داچي ملګرو ملتونو داسی څرګند کړ چی دطالبانو ګوريلا او جنګيالی دکوکنارو

دحاصلاتو دخرڅلاو څخه  هغه اندازه پیسی  چی  ترلاسه کول  پر هغه پیسو باندی نوی سلاح را پیرودل  د جګړی لوژیستکی   مواد  را برابرول  او  خپلو جنګیالو ته معا شونه ورکول – بل مطلب د اچی  په کال  (۲۰۰۸)  کی  د امریکی د متحده  ایالاتو  د (سولی د انستیوت) له خوا یوسروی  په افغانستان کی  دتریاکو دپروسس په برخه کی ترسره شو چی دهغه سروی په نتیجه کی داسی  را څرګند  شو    چی د افغانستا ن (۹۸) سلنه ساحه کوم چی دطالبانو ترولکی لاندی دی په دغه نومړو ساحوکی دتریاکو دتصفیه کولو اوله هغه څخه دهیروینو دتولید (۵۰) لابراتوارونه یا تصفیه ځا یونه   موجود  وه  چی  پخپل ورځنی فعالیت کی زیات مقدار تریاک تصفیه کول .   په هغه کال کی طا لبا نو کوم چی له خلکو څخه مالیه را ټول کړی وه او هم هغه مقدار اوپیوم یی چی خرڅ  کړی  وه دهغه مجموعی  پیسی یا مبلغ (۴۲۵) میلیون  ډالر وه  نو په دی بنیاد  طالبان داوپیوم دهر کال دحاصلاتو په لوړید و سره  له یو خوا خپل ضروری بودجه  سمبا لول اود بلی خوا څخه خپل صفوفوته نوی جنګیا لی دترخپل لاندی کلو اوباندو څخه راجلبول اویا نوی طا لبا ن یی را  استخد امول اوهریوه ته دمیاشتی (۳۰۰) ډالر معاش ورکول  سربیره پرهغه کوم چی هغوی دکوکنارو دحاصلاتو په راټولو کی ورځنی اجوره هم تر لاسه کول .

واشنګټن د (۲۰۰۸  ) کال په نیما یی کی  ددی دپاره چی په افغانستان کی دزیا تی شورش اود اړو دوړو مخه  ونیسی  نو داسی پریکړه وکړ چی افغانستان  ته نور اضافی (۴۰۰۰۰) سرتیری ولیږی چی په مجموعی ډول سره د نورو هیوادونو د سرتیرو  سره کوم چی په افغانستان کی موجود وه دهغو  شمیر  (۷۰۰۰۰) تنو ته ورسد دبلی خوا څخه دتریاکو دورځ په ورځ دنقش په نظر کی نیولو سره کوم  چی  طا لبا نو  د نوی تا زه  دم جنګیالیو په راجلبولو کی  نوی تکتیکونه په کار وړل  نو دهمدی ستونزی  د په نظر کی نیولو سره دامریکی دمتحده ایالاتو  د خزانه داری وزارت پریکړه وکړ چی په افغانستان کی د(افغان دګواښ ما لی اتاق ) «Afghan Threat Finance Cell»  ایجاد کړی او په هغه  کی( ۶۰)  تنه  حرفوی  ماهران د مخد ره موادو پرضد مبارزه کی دیوواحد آداری ترنامه لاندی په کار وګمارل  چی  دغه  نوی  اداره د یوواحد ستراتیژیک هدف په لرلو سره د مخدره موادو د قاچاق ،کرهنه اودهغه دترافیک اودراکړی ورکړی په مقا بل کی مبارزه وکړی.

د بلی خوا څخه دوافغانستان دحالاتو په نظرکی نیولو سره د«اجتماعی شبکی دتحلیل اود تجزیی د میتود» او هم د« مودل جوړونی دشبکی داغیزی» دکمی (Quantitative) د روش څخه  په کاراخیستلو سره  اکثر هغه  غیرنظامی  دتجربی خاوندان  دیومخکینی باتجربه سرتیری په قول کوم چی دغه  غیرنظامی تجربه لرونکی ډلی ته دحوالی ورکولو کمیشنکاران (یا دکلی پورورکونکی ) یادول  داهغه کسان دی  چی دشورشی اود بغا وت کونکی (طالبانو ) په مینځ کی  د  ځا نګړی  موقف خا وندان دی   یا داچی  د یوحیا تی

غوټې (ګره) یا د یومینځګړی موقف لري –ددوی موقف دومره لوړ او ټاکونکې دی کوم چې امریکایي سرتیري دی ته وهڅول شو چې دیولنډی مودی د پا ره دزده کړی یوډول ځغلنده خوځیدونکې چټک عملی نظا می کورسونو کې زده کړه وکړي -چې دعملیات په وخت کې دحوالدار یا دکلي دپور ورکونکې ددفتر دروازی په یولغته سره دړی وړی کړي او دشورشی د دلي مالي شبکې ته تاوان ورسوی ګرچه دغه کړنه یوڅه جنجالونه او ستونزی رازیږول یعنی هغه شان ته ستونزی کوم چې د کلي د خلکودنارامی اود خوابدی موجب ګرځید ل ځکه چې همدغه دکلی پورورکونکې سړی خلکو ته د پور په ورکولو سره دهغوی کسب اوکار ته رونق ببنل اودکلی خلک پرهغه باندی باور اواعتبار درلود نوکله چې هغه په دی ډول سره ورټل شی نو په هغه صورت کې طا لبا نو ته لا پسی چا نس را پیداکیږی چې په کلو کې د خلکو په مینځ کې نور هم ځای پیداکړي او لا پسی غښتلی شي .

په کال (۲۰۰۹) کې دطالبانو دجنګیالیو لمن لاپسی په ډیر سرعت سره دافغانستان په هر ګوټ کې پراخه شو یعنی هغه وخت چې د« اوباما» نوی اداره دطالبانو د مینځه وړلو دپاره د خپل نظامی قوتونو شمیره (۱۰۲۰۰۰) تنو ته لوړ کړ – دامریکې دمتحده ایالاتو افغانستان ته داضافی سرتیرو له رسیدو څخه یومیاشت وروسته یعنی د فبروی د میا شتې کال (۲۰۱۰) کې جمهور ریس «اوباما» د طا لبا نو سره په جګړه کې په رسمی بڼې سره یو بله نوی ستراتیژیکی پلان په تصویب ورسول چې دهمدی پلان په نظر کې نیولو سره دهلمند دولایت په مارجه بازار(Marja) کې چې ددی ولایت په یوه لیری سیمه کې پروت دی دهغه بازار په فضا کې دهلیکوپترو ډله ایز الوتنه تر سترګې شو کوم چې نوموړی با زار ددوړو اود غبارتر چترلاندی پټ او تری تم شو. او دامریکې دمتحده ایالاتو په سلونو تنو سمندری سرتیری د تریاکو په کروندو کې په ډیر ځغلنده او چټکتیا سره پلی کیږی داهغه سیمه دی کوم چې دلوړو خټینو دیالونو پواسطه سره احاطه شوی چې امریکایی سمندری قوتونه داسی انګیرله چې دغه سیمه د طالبانو مرکزی ا ډه دی چې دهغه په رانیولو سره داسی فکر کول چې هغوی ګواکې دنړی دهیروین دتجارت بازار تر لاسه کړی دی هوکې مارجه هغه د تریاکو د راکړې ورکړې تجارتی مرکز دی کوم چې د نړی (۴۰) سلنه تریاک په همدی مارکیت کې دتریاکو دتجارانو اود معامله ګرانو ترمینځ معا مله او په تجارت ولویږی اویا له همدغه بازارڅخه تریاک نورو ولایتونو سیمو اوحتی دنړی نورو مارکیټونو ته لیږدول کیږی.

یوه اونۍ وروسته دمتحده ایالاتو قوماندان جنرال ستانلی مککریستل( Gen. Stanley McChrystal ) دافغانستان دجمهورریس دمرستیال کریم «خلیلی» سره درسنیو (میډیا) دلږ لید د اړولو او د دشوریشیا نو د ضد ستراتیژیک په اړه د خبریالانو سره په یوه مرکه کې داسی څرګندونه تر سره کړ: مونږ نن یو ځانګړی کلک تیګه دنورو ولایاتو په

ځیر دلته دمارجه (Marja) په کلی کی ددی سیمی دآرامی اود ټیکاو دپاره ایږدو او یواځی داسی هم به هیڅکله نه وی چی مونږ په دی اقدام سره به داوپیومو تجارت ته په قسمی بڼی سره تاوان نه رسو بلکه ویلی شو چی مونږ په دی اقدام سره دتریاکو تجارت ته په دی سیمه کی ستر تاوان رسو - دلته یوافغانی کونډه دتریاکو دنورو کروندګرو سره په ډله کی په لوړ آواز سره داسی وویل :که څو ک خما دتریاکو دکروندی داړولو دپاره ترکتور راولی اووغواړی چی ځما دکوکنار بوټی په تراکتور سره واړوی اوله بیخه یی وباسی نو لمړی دی دغه تراکتورپرما باندی راتیرکړی اوبیا وروسته ځما دکوکنارو بوټی دخاوری سره خاوری کړی . دا دهغی ښځی څرګندونه وه چی له مارجی څخه دستالایت دتیلیفون پواسطه سره ماته دلته په کابل کی مخابره شوه دغه د امریکی دسفارت رسمی مقام کوم چی دهغه سره دهغه کونډی خبری مخا بره شوی وه وویل : تاسی دا ځګړه بی دکوکنارو دتولید څخه په هلمند کی نشي وړلی .

ما ددی پیښی د ننداری دپاره نژدی شپږ کاله دمخه دیو مقالی په ترڅ کی ټام دیسپیچ (Tom DisPatch)سایټ ته دتریاکو دراکړی ورکړی اودهغه دکرهنې اودتجارت په اړه داړینو مقاماتو دما تی اود شکست خوړلو په اړه خبرداری ورکړی وه او ما په هغه وخت کی داسی ویلی وه : مونږ کولای شو چی په دغه حاصلخیزه په وینو لړلی خاوره کی یو بی رحم او وحشیا نه جګړی ته بی له کوم ځانګړی پایلی اولاسته راوړنی څخه دوام ورکړو اویا داچی مونږ کولای شوچی دیو ځانګړی پلان په لرلو سره دغه لرغونی هیواد چی دجنګ په لسیزو کی په وچ بیابان باندی بدل شوی له سره دنیالګیو په کینښولو اد دکرهنې دبیا رغونی سره بیرته شاداب او زرغون وګرځو - ځما مطلب دلته دادی چی په دی هیواد کی دیو قوی پریکړی پربنیاد دتریاکو په بدیل کی ورو ورو او په ډیره ساده ګی اوآسا نی سره د نورو غذای محصولاتو کرهنی ته با ید مخه کړو او واشنګټن وپوهوو چی که چیر قوی عزم او نیت موجود وی کیدای شی چی یوه د مخدره موادو دولت په یوه نا مخد ره موادو دولت با ندی تعویض کړل شی .

د طا لبا نو پر جګیا لیو با ندی وار ګذار او یرغل وړل اما د تاریکو د حاصلاتو څخه غافل کیدل اوهغه له پا مه غورځول خپله یوه څرګند ه تیروتنه دی او دا ځکه چی په هر وړی کی د تریا کو حاصلات دنوی طالبی شورشی ډلو داستخدامول دپاره بودجه او پیسی را برابروی اودا هغه حقیقت دی چی دوړاند یز په بڼی سره ویلی شو چی که (اوباما) هر څومره خپل جنګی سرتیری دلته افغانستان ته زیات ولیږی او یا دهغو په شمیره کی زیاتوالی راوړی هرومرو دما تی سره مخامخ کیږی او داځکه چی د تریاکو دهر حاصل سره د نوی طا لبا نو د استخدامید و چانس زیاتیږی چی دا خپله د مخا لفو جنګی قوتونو په تنا سب کی ستر بد لون راولی دبلی خوا څخه دی بیویلو پاتی نشی چی په کال (۲۰۱۴) کی دامریکی تر ملاتړ لاندی دایتلاف ډلی دهوا په سړید و سره هغه

وخت چې د(اوباما) سره رسمی کتنه اوملاقات کول له (اوباما) څخه وغوښتل چې په افغانستان کې خپل هوایي قوتونو ته هدایت ورکړي چې دخپل په هوایی حملو اوتها جم کې یو څه کمی راوړي یعنی تر یوه حده پوري خپل هوایی حملی محدود کړی داهغه وخت وه چې وروسته له هغه طا لبی جنګیا لو ته موقع مناسب شو چې دخپل جګړی لمن له جنوب څخه شمال شرق ته هم پراخه کړی کوم چې هغوی په همد ی موده کې یوزیات شمیر دافغانستان دملی اردو اود پولیسو سرتیری له مینځه ویوړل اوهغوی یی په مرګ محکوم کړ چې په رسنیو کې دافغان د نظامی ضا یعا تو شمیر نسبت دنورو کلونو په پرتله په تیر کا ل کې زیا ت په ګوته شوی دی .

په هغه وخت کې جان سوپکو(John Sopko) افغانستان ته دامریکی دمتحده ایالاتو ځانګړی څیرنمل (بازرس) دطالبانو دلا ژوندی پا تی کیدو په اړه داسی توضیح ور کړ: سره دهغې چې مونږ په تیرو لسیزو کې په متناوب اوپه دوره یی بڼی سره د تریاکو دمینځه وړلو دپرګرام د تحقق اودپلی کولو دپاره تقریباً (۷،۶) بیلیون دالر مصرف کړ مګر له بده مرغه مونږ دملاحظې وړ په هر متریک مربع دتاریاکو دکروندی په له مینځه وړلو کې دنا کا می اود شکست سره مخامخ شولو دتریاکو تولید اودهغه کرهڼه دهغه دممنوعیت اودله مینځه وړلو په پرتله لاپسی زیا ته شو او طا لبان وشو کړلی چې دتریاکو له خرڅلاو څخه لا ډ یری پیسی ترلاسه کړی او همدا راز په افغانستان کې دتریاکو د معتا د ینو په شمیر کې اویا دتریاکو څخه دنا وړی استفادی کچه په بی ساری توګه سره لوړ شول .

د بلی خواڅخه په واقیعت کې په کال (۲۰۱۳) کې د تریا کو د تولید ریکارد اوکچه چې په (۲۰۹۰۰۰) هکتاره ځمکه کې کرل شوی وه دهغه حاصلات چې (۵۵۰۰) ټنه وه تر (۵۰) سلنه نسبت تیرو کلو نه زیا ته شو چې دهغې دخرڅلاو څخه (دری) بیلونه ډالرغیر قانونی بادراوړنکی عاید دطالبانو ترلاسه شو او له خلکو څخه دراټول کړلی شوی مالیی سره دطا لبانو ټوله مجموعی پیسی تر (۳۲۰) میلونه ډالر و ته ورسید کوم چې دامریکی دمتحده ایالاتوسفارت په کابل کې دیو پلټنی په ترځ کې په مستند بڼی سره دغه عا یدچی طا لبا نود تریاکو دخرڅلاو څخه ترلاسه کړی یوغیرقانونی اوبادراوړنکی عا ید ونومول .

په کال (۲۰۱۴) د تریاکو د حاصلاتو دراټولو په فصل کې ملګری ملتونه دتریاکو په اړه یوه تازه رقم داسی څرګند کړ : دادخواشینی ځای دی اوهغه داچې په افغانستان کې دتریاکودکرلود لړی په دوام سره سږکال تقریباً په (۲۲۴۰۰۰) هکتاره خمکه کې تریاک کرل شوی چې دهغه ټول حاصلات په محموعی توګه (۶۴۰۰) ټنو ته رسید لی اوداهغه رقم دی چې دبین المللی ریکارد څخه په تاریخی بڼی سره ډیر لوړ او وچت دی – چې دهمدی لوړ مقدار تریاکو دحاصلاتو په نظر کې نیولو سره سږ کال دمی په میاشت کال (۲۰۱۵) کې دتریاکو دسیل آسا انتقال کچه دنړی په ټولو مارکیټونو کې د مخکینی اټکل

څخه لا زیات ترسترګو شو اودبلی خوا څخه دتریاکو دهمدی لوړ حاصلاتو په نظر کی نیولو سره دامریکی متحده ایالات چی ځا نته د تریاکو پرضد مبارزه کی یواځنی هیواد شمیری دهغه د تریاکو پرضد ما لی بودجه تر (8,4 ) میلیونه ډالره پوری لوړ کړ شو کوم چی په دی اړه «جان سپوکو»هڅه وکړهغه څه چی دیو امریکا یی شخص په ذهن اودهغه په تصورکی دافغانستان دتریاکوپه اړه څه راګرځی هغه تفسیر کړی نو هغه په دی مورد کی داسی توضیح ورکړ : په افغانستان کی هغه ساحه ځمکه چی د تریاکو دکرلودپاره ځانګړی شوی دی (۵۰۰۰۰۰) جریبه خمکه یا (۷۸۰) مایل مربع ساحه دی چی دغه ساحه په امریکی کی دفوتبال دټولو میدانونو سره دفوتبال دجال څخه د شاتنی ساحه څخه لا (۴۰۰۰۰۰) زیاته ساحه دی .

طا لبا نو د(۲۰۱۵) کال دجګړی په موسم کی په قطعی بڼی سره د مبارزی دنوښتونه او دزیات مقدار اوپیوم دترلاسه کولو په خاطر ډیر ژور او پریکړنی جنګی عملیا تونه تر سره کړل – نیویارک ټایمس پخپل یوه ګڼه کی داسی راپوروکړ چی د طا لبا نو نوی مشر ملا اخترمحمد منصور یو د طا لبا نو له هغه وتلی رهبر څخه دی چی د مخدره موادو د تجارت او له خلکو څخه دما لیی دراټولو سره ډیرعلاقه اوزړه ګرمی لری کوم چی له دی لاری څخه طالبانو ډیر پیسی تر لاسه کولای شی - طا لبا نو دخپل نوی مشر تر سرمشری لاندی له مختلفو لارو څخه پر دولتی قوتونو باندی د فشار په واردولو سره وروسته له څو میا شتو په دی بریا لی شو چی په شما ل کی قندوز چی یوه عمده ستراتیژیکی ښار دی ددوو هفتو دپاره تر خپل ولکی لاندی راوړی - قندوز دطا لبا نو دمشر له نظره هغه یواځنی سیمه دی چی دهغه ځای څخه ټول راټول کړل شوی تریاک له نورو ولایاتو څخه په ډیر آسانی سره د تاجکستان له مسیره روسی او اروپا ته انتقال موندلی شی - دبلی خوا څخه دطالبانو ددغه بریالیتوب په نظر کی نیولو سره واشنګټن د مجبوریت له مخی دا احساس تر لاسه کړ چی له افغانستان څخه دخپل رزمی سرتیرو دوتلو په پلان کی تم شی یعنی دطا لبا نو دغه وروستنی بری له افغانستان څخه دامریکی دنظامی قوتونو پلان دړی وړی کړ.

دلته هغه بل همه مطلب چی باید په خاطر راوړل شی هغه دادی چی امریکایانو خپل ټول سیمیز دفترونه په هغه ولایاتو کی چی دطالبانو تر ګواښ لاندی وه په ډیر بیړه سره وتړل ، په دی وخت کی ملګری ملتونه په یوه نقشه کی وښودل چی طالبانو دهیواد له نیمایی برخی څخه زیات اولسوالی تر خپل شدید کنترول لاندی لری او سربیره پرهغه اوس اوس طالبانو هغه سیمی چی مخکی هلته حضور نه درلود اوس هغه سیمی هم تر خپل ولکی لاندی راوستی دی او هلته ځای پرځای شوی دی .

په دی کی دتعجب ځای نشته چی ولی طالبانو د هلمند پر ولایت با ندی خپل یرغل او حملی زیاتی کړی دی داځکه چی هلمند یوله هغه وتلی ولایاتو څخه دی کوم چی هلته د کوکنارو کرهنه او دتریاکو حاصلات د نورو ولایاتو په پرتله ډیر زیات دی لکه هغسی

چې نیویارک ټایمس پخپل یوه ګڼه کې داسې څرګندونه کوی : له تریاک څخه لاسته راغلې سوچه ګټې طالبانو ته دا توان ورکړی چې خپل جنګې اقتصادی طرحې او پلانونه په ډېر ښه بڼې سره پلې کړی - د دسمبر د میاشتې په نیمیا یی کې کله چې طا لبا نو د حکومت د مخدره موادودکنترولولو مرکزونه(دتلاشی بندرونه ) ترلاسه کړل او حکومتی قوتونه یی تر شا وتمبول نو په همدې وخت کې طالبانو وتوانیدل چې داوپیوم د تجارت دزړه په دننه کې چې هغه د مارجه (Marja) ښار ګوټې اوبازار دی ورننوځې اوتر خپل کنترول لاندې راولی . چې دمارجه په رانیولو سره کوم چې د هیروینو د تجارت مرکز دی دجمهور ریس «اوباما» پوری هغه ټول ترلې او پلوی سا یټونه پخپلو نشراتو کې ډیر خپرونې چې په کال (۲۰۱۰) کې نه وه نشر کړی یا یی پټ سا تلی وه په نشرورسول کوم چې دهریو سا یټ په مخ کې د( مارجی) د بیرته رانیول په اړین ځا نګړی مقالې اورسالې ترسترګو کیدل نو په همدې وخت کې وه چې دامریکې دمتحده ایالاتو ځانګړی عملیاتی قوتونه او دامریکې هوایی ځواک له دی نه چې دافغانستان ځنې سیمې دطالبانو تر کنترول لاندې پریوتل ونه غوښتل چې دافغانستان د پوځ روحیه کمزوره کړی نو د (۲۰۱۶) کال په اوایلو سره د (۱۴) کالو مخکې چې دامریکې متحده ایالات په هجوم سره افغانستان د طا لبا نو له ولکې اوله منګلو څخه آزاد شو اوس هم دښاغلی «اوباما» داداری له خوا له افغانستان څخه دامریکا یی سرتیرو دوتلو یا دهغوی دکمولو په سیاست کې د پا م وړ بد لون تر سترګو کیږی کوم چې د همدی سیا ست په نظرکې نیولو سره هلمند ته امریکایی نوی تازه دم پوځیان ولیږل چې دافغنستان د ملی اردو سره په ګډه دطالبانوپه وړاندی وجنګیږی اودطا لبا نو لاس رسی له«مارجه»یعنی دهیروینو دنړیوال له مارکیټ څخه چې طا لبا نو ته یو ( اقتصادی جا یزه ) ګڼل کیږی لنډ کړی .

د(۲۰۱۵) کال دجنګی فصل یا موسم دفاجعی اویا د ناورین څخه وروسته کله چې دامریکې د متحده ایالاتو لوړ پوړی چارواکی د افغا نستا ن د ملی اردو د نه تمیدونکی او دوامدارضا یعا ت اوتلفات کوم چې دملګرو ملتونو له طرفه (ریښتنی وحشت ) نومولی شوی دی ولیدل کوم چې نوموړی پیښه په دی ساړه ژمنی موسم کې راپیښه شو هغه غټه ناورین وه چې د بین المللی له معیارونوڅخه یو غیرمترقبه ناورین وه چې نړیوال یی هم دغم په تغر کی کیښینول او د بلی خوا څخه دجنوری په لمړی هفته کی طالبانو دکابل په ښار اونورو سیمو کی پنځه نور انتحاری عملیاتونه هم تر سره کړل چې دهغه په ترڅ کې (۲۰) افسرانو خپل ژوند دلاسه ورکړل .

په همدی وخت یعنی دکوکنارو دحاصلاتو د(۲۰۱۵) کال دفصل دراتلو په موده کې د شپږ کالو دآزاد مخ په وړاندی کرکیلنی څخه وروسته دتریاکو په حاصلاتو کې چې په(۱۸۳۰۰۰) هکتاره ځمکه کی کرل شوی وه (۱۸) سلنه کموالی راغی یعنی دکوکنارو حاصلات تر (۳۳۰۰) ټنه پوری ښکته راغی چې داپخپله د تریاکو په حاصلات کې دتیرو کلونو په پرتله یو بی ساری کمښت یا تقلیل دی - ملګری ملتونه په افغانستان کې

دترياکو دفصل اودهغه دحاصلاتو ددغه کمښت عامل وچکالي او دترياکو بوټي د يو ډول فنګس( سمارقی انتان ) په اخته کيدو پوری اړين وبلل چي ممکن دغه وضع تر (۲۰۱۶) پوری دوام ونکړی اما سره له هغه تر ننه پوری د ترياکو دحاصلاتو د کميدو ددغه دوه اصلی اسبابو په اړه مختلط مثبت اومنفی خبری تر غوږ پوری رسيږی ، دبلی خوا دافغانستان دتريا کو د توليد اودهغه دراکړی ورکړی په ارتباط د ملګرو ملتونو له خوا ډير زيا ت راپورونه او ګذارشات ثبت اوپه نشر رسيد لی چی دهغو ګذارشا تو يو زيات مقدار يا د مينځه وړل شوی او يا هدر شوی دی اما ددی ټولو ګذارشا تو له جملی څخه يوه راپور چی داحصا يوی ارقامو له نظره ډير اهميت لری هغه راپور دی چی په هغه کی داسی څرګندونه شوی دی : دافغانستان اقتصادی وده دبين المللی مرستو او دترياکو دپيسی سره په ګډه د داخلی ناخالص توليد (GDP) له يو ډارونکی (۶۳) سلنه څخه په کال (۲۰۰۳) کی تر (۱۳) سلنه په کال ( ۲۰۱۴) پوری را غورځيد لی دی اما بياهم ملګری ملتونه داسی زياتوی چی د «مخدره موادو داقتصاد پوری وابستګی» دکليوالی ټولنو دکرهنی اود کشا ورزی په سطح کی بيا هم يو لوړ رقم دی .

دهلمند ولايت په سيميز سطح او ليول کی دافغانستان دحکومت ځنی رسمی چاروکی هم داوپيوم (ترياک) په تجارت اوراکړی ورکړی کی پوره لاس لری نيويارک ټايمس په دی موردکی ديوراپورپه ترڅ کی توضيح کړی چی د ترياکوو په تجارت اوقاچا ق کی دافغانستان دحکومتی لوړپوړی چارواکی اوطالبان پخپلو مينځوکی سره رقابت کوی .... اوبيا په ځانګړی بڼی سره دهغوی تر مينځ مبارزه د ترياکو د ترافيک اودهغه د کنترول پر سر باندی دی ، دبلی خوا دطالبانو پواسطه سره له بزګرانو څخه د ما لياتو ټولول په همغه خپل مخکينی شکل سره دی اودلته هغه يو ډول ترک چی د طا لبا نو له خوا پکار وړل کيږی هغه ترک دا دی چی دکابل دلوړ پوړو مقاماتو سره د ځنځير د کړيو په شکل داسی ارتباط موجود دی چی طالبانو له ترياکو څخه د خپل غير قا نو نی ګټی يوه برخه په لغته وهی يعنی د تريا ک بوټی له مينځه وړی چی هغه هم د کا بل درژيم دترياکو دقاچاقبرو مقا ما تو په توافق سره ترسره کيږی .دا ترک له دی خاطره پکاروړل کيږی چی سيميز مقامات وشی کړلی چی د مرکز دلوړ پوړ و مقاماتو کوم چی دترياک په تجارت کی لاس لری دهغوی ملا تړ دځا نه کړی اوطا لبا نو ته فرصت ورکړی چی دترياکو کار وبا ر اودهغه کرکيلنی ته وده ورکړی .

په عين زمان کی د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د خپل وروستی څيړنی اوارزيابی په پايله کی چی په افغانستان کی داوپيوم په اړه ترسره کړ داسی ومومند :« چي طالبان په ډير منظم اوپه سيستياتيک بڼی سره داوپيوم دکار وبار دځنځير په هره حلقه او په هره پړاو کی دپوره تسلط خاوندان دی » هغوی په عين حال کی دهلمند له هغه بزګرانو څخه لس فيصد ماليه هم اخلی کوم چی هغوی د تريا کو په کرکيلنی باندی بخت دی يعنی هرکال پخپلو ځمکو کی ترياک کری – له بلی خوا څخه طالبانو دهيروين دلابراتوارونو

اودترياکو له تصفيه خانو څخه په کلکه دفاع کوی اونه پرېږدی چی دترياکو پالايشګاه تخريب اويا د بل چا په لاس کی ولوېږی - نو ددی پورتنيو يادونو په لړ کی بايد په ډاګه شی چی طالبان خپل ځان دترياکو دراکړی ورکړی اود قاچا ق اصلی خاوندان او ضامن بولی لکه هغسی چی ټايمس ليکی :ډېر ستونزمن راښکاری چی تشخيص شی اوهغه داچی دمخدره موادو اصلی کارتل (انحصار کونکی ) کوم يو مشخص ګروپ پوری اړه لری اما له يو لړ مشا هداتو څخه داسی ګمان وړل کېږی چی د ترياکو ترافيک په افغا نستا ن کی دهغو په لاس کی دی چی له ډېر پخوا څخه دترياکو په تجارت کی لاس لرل لهذا په راتلونکی اومستقبل کی دترياکو کاروبار اودهغه قاچاق کوم چی دکليوالی اقتصاد سره نه شليدونکی اړيکی لری دطالبانو او دافغانستان دحکومت دفاسدو قاچاقبرو حلقو ترمينځ به ديو معما په بڼه پاتی شی .

دتيرو کلونو څخه دکوکنار دکافی عوايدو دترلاسه کولو سره سره بياهم طالبان بی له کوم شک د نوی جګړی د موسم په را رسيد و سره چی په پسرلی کی شروع کېږی بشپړ چمتوالی لری يعنی کله چی واوره په غرونه اودغرونو په لمن کی ويلی شی اود کوکنارو نوی بوټی د خاوری څخه سرخپل را پورته کړی لکه هغسی چی په همدی تيرو (۴۰) کلونو کی ددغه بوټی دحاصلاتو په راټولولو سره شورشی ډلو ته دا امکان تر لاسه شوی چی دخپل جنګی صفوفو دلا غښتلتيا دپاره دترياکو دهر فصل په رسيدو سره دجګړی دوام ته نوی جنګيالی را استخدام کړی .

**دافغانستان دزبرغوټی(کورکيره) پريکول يا را څيړل**: د نړی په سطح کی داکثرو خلکو د پا ره اقتصادی فعا ليتونه دکاليو ( اجناسو) توليد ،مبا د له د تماس هغه لمړنی ټکی يا مبدا دی کوم چی خلک د حکومتونو سره په تما س او په ارتباط کی ولوېږی اودغه اړيکی دسکی (Coin) او داسعارو په بڼه کوم چی ددولتونو له خوا مهر اويا په رسمی بڼی سره په نښه شوی وی هغه اسعار خلک پخپل جيب کی داړيکو د تا مينولو دپاره سا تی اويا دځا ن سره ګرځوي اما کله چی د يو هيواد يو ډيرمهم جنس نا مشروع (غيرقانونی) اوسی نوپه هغه صورت کی په طبعی شکل سره سياسيی وفاداری د پنها ن کاری په لور په حرکت کی ولوېږی اوهغه داچي هغه غير قانونی محصول کوم چی د کرهڼی له مزارع څخه تر لاسه شوی دی هغه خوندی کړی او بيا دنړی با زارونو ته ليږی چی دهغه له خرڅلاو څخه پيسی تر لاسه کړی او بيا په همدی تر لاسه شوی پيسو با ندی خلک استخدام کړی هغو ته معا ش او پروروکړی اوخپل نفوذ ته په سياسيی او اقتصادی لحاظ وده ورکړی بی ويلو دی پا تی نشی چي په افغانستان کی دمخدره موادو تجا رت دافغا نستا ن ما لی سکتور زهرجن کړی دی کوم چی دسوند دموادو په بڼه دافغانستان د غير قانونی اقتصاد په وده کی ستر نقش ترسره کوی لکه هغسی چی په دی مورد کی ښاغلی« سوپکو » داسی توضيح ورکوی : « ترياک او دولتی فساد

دافغانستان ددولت مشروعیت له مینځه وړی اویا دولت په نړیوال سطح کی بد نام او کمزوره کړی اما له بله پلوه همدغه اداری فساد اودتریاکو تجارت شورشیانو اوطالبانو ته ستر مرسته ور رسولی کوم چی دهغوی مالی بنیه ژوندی ساتلی او دهغو د تغذی شرایط په بشپړه بنی سره چمتو کړی دی »

په افغانستان کی وروسته له (۱۵) کالو دوامدار جنګ جګړی څخه واشنګټن دورته انتخاب سره کوم چی پنځه کاله دمخه کله چی داوباما جنرالان له (مارجا) څخه دامریکی سمندری مبارزین په هلیکوپترونو کی راجګول مخامخ شوی دی او د ا یو پوره کتّ متّ دهغه تیری لیسزو اونیمیای وضعی سره ورتوالی لری کوم چی دامریکی متحده ایالات د لوبی د سیکل په پای کی بیا له سره په دام کی ولویږی اودافغانستان دتریاکو دهرکلی اودهرفصل دمحصولاتو دتولولوپه وخت کی دنوی استخد ام کړل شوی تا زه دم شورشی جنګیا لیو سره په جګړه کی راښکیل کیږی اودخپل قوتونو دراوتلو شرایط له افغانستان څخه نشی سمولی نو دهمدی پورتنیو یا دونو په نظر کی نیولو سره تردغه ځای پوری تاریخ مونږ ته داسی وایي : **د دغه هیواد په کروند و اوخا وره کی دښا ما ر غا ښونه کرل شوی دی – دلته د هر پسرلی په را رسید و سره په دی کا ل په بل کال اوپه راتلونکو کلونو کی نوی ګوریلا او چریکی طا لبان او شورشیان نوی زیږی اود جنګ میدان ته را ګډ یږی .**

یوه مهمه خبره چی باید هغه په یاد را وړل شی هغه دادی چی دافغانستان داوسنی ستونزی اود معضلی د پاره یوه بل بالقوه بد یل هم تر سترګو کیږی چی دغه زبرغوته (کورګیره) کوم چی یواساسی ستونزی بلل کیږی وخپری اویا له بیخه یی پری کړي او هغه داچی ددی زبرغوتی دځیرولو دپا ره لمړنی اواساسی ګام خپله زمان تاکی او هغه داچی دامریکی جمهورریس ښاغلی اوباما نور دخبرو اوچا نه وهلو لوبی پای ته ورسوی او خپل ټول سرتیری اونظامی قوتونه له افغانستان څخه د یو مخکی له مخکی جوړ کړ شوی پلان له مخی اوبا سی .

بل مهم اوپریکړنی ګام چی باید پورته شی هغه دادی چی ددی روان بی ګټی جګړی د ما لی اوبودجوی لګښتونو نیما یی برخه یی با ید د میلیونو بزګرانو د بوختیا د پاره کوم چی اوس دتریاکو په کرکیلنه کی مصروف دی ځنی نور کرهنیز زراعتی اقتصادی تولیدی بد یلونه ( الترناتیف) راوړل شی یعنی د دی جګړی دما لی لګښت په نیمایی پیسو باندی کیدای شی چی تخریب شوی باغونه ، ځپل شوی مواشی اورمی ، په هد ر تللی اصلاح شوی تخمونه د واوری دویلی شوی داوبو سیستم له سره بیا ورغول شی کوم چی مخکی له جګړی په دی هیواد کی هر شی پخپل حا ل کی وه اود هر کال په تیریدو سره دغه هیواد دپرمختګ پړاونه وهل اما که چیری بین المللی ټولنه دافغانستان دکلیو پراختیا دکوکنارو د(۱۳) سلنه ونډه په تولید د ناخالص داخلی پوری تر اوږدی مودی اړین وبولی نو په هغه صورت کی شاید چی افغانسنان په ټپه سره ودرول شی

اوهرشی دلته د مخدره توکو د دولت تر رهبری لاندی به راشی اوکلنی دوره (چرخه سالانه ) شا ید چی دارودی مودی په تیریدو سره ما ت اودړی وړی شی .
**ددی مقالی دلیکونکي په اړه لنډ معلومات :** الفردمککوی دهارنګتون ویسکانسن مدیسون په پوهنتون کی دتاریخ دڅانګی پروفیسور- د نوی کلاسیک کتاب:مولف ترلاندی عنوان [ دهیروین پالیسی - او د (سی آی ای )لاس اوهمد ستی دمخدره موادو د توکو په نړیوال تجارت کی ]- دهغه نوی چاپ شوی کتا بونه لکه دامریکی دکترین په اجباری تحقیق کی – شکنجه اوله مصونیت څخه فارغ - دامریکی پولیسی امپراتوری - دامریکی دولت – فلیپین اود ځارنی اوپلټنی د دلتونو را جوړول --- همدارنګه دهغه زیات لیکنی اومقالی په تام دیسپیچ سا یت کی هم ترسترګو کیږی .
-------------------------------------------------------- **په ډیر درنا وی**